AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنګروال ۲۰۲۳/۱۱/۲۲

# افراسیاب او کی قباد د تاریخ په پاڼو کې

## ۱۴مه برخه

د څېړونکو او لرغونپوهانو د انګېرنو له مخې، ګرشاسب د فريدون له زوزات او تېر ښخه وو او دارنګه د استوروي او افسانوي تاريخ له مخې د افراسياب په ترڅ هم انګېرل کيږي، چې دی د فريدون کورنی ته منسوب و.
افراسياب د لرغوني تورانی تبر له افسانوي او استوروي تولواکانو او اتلانو ښخه يو ستر تولواک وو، چې د ده اتلولي په لرغوني تاريخ کې ستايل شوېده.
دی د «پشنګ» زوی او د «تور» لمسی دی، چې د فريدون له دري زامنو (سرم=سلم، تور، ايرج) ښخه يو وو. دا چې په اوستايي متونو او شهنامه نا مو کې «توراني» بلل شويدی، لامل يې همدا ګڼلی شو.
له دې سربېره په اوستا کې د افراسياب نوم د «فرنګر سينه farangra saena» په بڼه راغلی دی، چې په پهلوي کې «فراسياک» او په شهنامه کې افراسياب کښل شويدي اوپه ځنو متونو کې د« فرا نګرا سيا »په بڼه هم راغلی دی
.
انګېرني داسې دي، چې بنايي د افراسياب ربښتني استوګنځی «کنګ دژ» وي «ګايګر »وايي کنګ د امورو د شمال ختيز کې توران دی ، خو د کنګ دژ اوسنۍ بڼه کندوز ته ورته دی، کندوز له دې سربېره، له دوه تورونه جوړ شويدی، چې يو يې «کند» او بل يې «يز» ياني د دغه نوم پخواني بڼه «کنديز» دی، چې له «کندژ» کنګ دژ او له اوسني کندوز=کندز سره دتاريخي او پرتليزې ژبپوهني له مخې ډېر نږدی دی...
پدې ترڅو داسې انګېرني هم شتون لري ، چې پدی لړ کې دارمستتر وايي «کنګه» په بخارا کې د کومې سيمی نوم دی...دا هم ويل کيږي چې «دا يوه ساکي کلمه ده، چې «کند» د ښار په مانا او «يز» يا «ديس» د سيمي مانا لري، ولي په مينځنيو پيړيو کې د «کهن دژ» پنوم ياد شو.»[1]
که څه هم د اوسني ايران يو شمېر ليکوال لکه د دوئ د نورو انګېرنو په څېر انګېري چې «خنجست» سين د اوسني ايران په خاوره کې بهېده...!؟ ياني چيرته چې د «کياني» کورنی د څواکونو له خوا، افراسياب د همدې سين په غاړه ونيول شو او بيا له مينځه لاړ.
ولي د کنګ دژ لرغوني سيمه، که همدغه کندوز وي او افراسياب د خنجست د سين په غاړه وژل شوی وي... خو همدغه د خنجست کلمه اوس هم د «خنجان» په بڼه شتون لري، چې د خنجا ن سين له خپلی سرچيني نه وروسته کندوز ته رسيږي... ،چې بيا هم دمقايسوي اوتاريخي ژبپوهني له مخې له خنجست نه خنجان د پا م وړ دی!؟
په اوستايي لرغونو متونو کې د افرسياب او سياوش (سياورشن) د جګړو يادونه شوېده او د بېلګي په توګه يو ځای داسې راغلي دي، چې د سياوش (سياورش) زوی کيخسرو هم د ده له لاسه په جګړه کې نيول شوی او بندي شويدی ، پلار يې ياني سياوش د افراسياب له لاسه وژل شوېدي.
پدې اړه داسې اندونه هم شته، چې سياوش له خپلې ميرې سره د ناوړه کړني له امله له پلار سره خپه شو، افراسياب ته يې پنا يووړه او بيا يې د هغه له لور« فرنګيس »سره واده وکړ. ولي د هغه د ورور «کرسيوزدا keresavazda د تور او دسيسې له کبله په دار وځړول شو.
دايرة المعارف کې د افراسياب د برخليک په ترڅ، چې سياوش يې په دار وځړوه داسې راغلي دي:
«منوچهر» د فريدون لمسی د خپل پلار د غچ او کسات اخستو په نيت د افراسياب په مقابل کې پورته شو، نوموړی يې مات کړ او پس له دې امو رود د ايران (اريانا )او توران تر مينځ سرحد وټاکل شو او سوله يې سره وکړه...»[2]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

له منوچهر وروسته د هغه زوی «نودر» د واک او ځواک څښتن شو، ولي د افراسیاب له ګواښ سره مخ شو او د یوې جګړې په ترڅ کې نودر ووژل شو. پدې وسیله د ایران خاوره د ده په ولکه کې راغله، خو تر ډېره يې ونشوه ساتلی او بیرته یې له لاسه ووته.
کله چې د کیانیانو د کورنی دویم ټولواک «کیکاووس» د واک چارې په لاس کې ونیولې، افراسیاب بیا پرې برید وکړ او ایران یې ونیو.
د روایتونو له مخې د ایران او توران په مینځ کې ګڼ شمېر جنګونه شویدی او پدې ټراو ډېر نکلونه خوله په خوله او سینه په سینه له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدېدلی دی ...
هغه مهال چې کیکاووس د خپلي ناروغی له بابته خپل لمسی کیخسرو پر تخت کیناوه، دی ټولواک د «رستم زال» په بنودني یو ځواکمن لښکر «توران» ته واستوو...په پای کې افراسیاب ونیوه او وې واژه، چې په دې اړه به داسپه کورنی په سرلیک کې هم پرې وغږیږو .
ولي له دېنه دمخه یې هم افراسیاب د جیحون تر هغې غاړې څغلولی وه، خو دا ځل په لاس ورغی او له مینځه لاړ.
په دې ټراو د «زمیادیشت په ۷۷ فقره کې راغلي دي، چې بې دینه «هوسراوا» پاچا، (موخه ترې ایوروا ساره aurvasara چې د کاوه هوسرا وا له یوه مخالف څخه وه) د اوږدي مودې لپاره یې په یوه ځنګله کې و څاره...اسپ سواره لارو هونکی له هغوئ سره ډېر وجنګېد. هوسرا وا پادشا د خپلو دښمنانو پر وړاندې لاسبری شو...لاره وهونکی تورانی فرانګراسیا (افراسیاب) او کرسه وزده keresavazda، ګرزیو د افراسیاب ورونه په ځنځیرونو وتړل، چې د خپل پلار پهلوان «سیاورشنا غچ او کسات واخلي.»
د کاوه یا «کوې» کلمه په ویدي سرودونو کې هم راغلي ده او اوستا هم د زمیادیشت په «۷۱ مه» فقره کې او بل ځل د «فروردین یشت» په ۱۳۲ مه فقره کې د «کاوه کواتا» یا «کي کوات=کی قباد» او د ده د ځاې ناستو څخه یې هم یادونه کړیده.
دا چې له یادې کلمي نه موخه د «کیکاوس» نوم دی او د «کاوه یوسانا» په نوم یې یادوي، داسي برېښي، چې تر دې دمه لا مرکزي اریایي قبایل یو له بله نه وه جلا شوي.
د کاوه یا کوې «یا کیاني کلمه د پوه په مانا راغلي ده ، ولي د ریګ ویدا په ۴۲۴مخ کي پخپله وید دپوهي په معنا راغلی دی ،خو موخه ترې الهي پوهه ده . (وګوری دډاکترتارا چندانګریزي سریزه ۴۲۴مخ )
همداډول دکیان کلیمي ته ورته د« ګیان یا ګیانم » کلیمه هم چي دریګوید په « ۵۰» څپرک کي راغلي ده دپوهي اودانش په مانا کارول شوېده . (وګوری هماغه اثر)
په ټوله معنا دغه کورنی کورنی یې د پوهانو د کورنی پنوم باید نوملي وی. د دې کورنی موسس « کیقباد» وو، چې په اوستا کې د «کاوي کواتا» په بڼه راغلی دي.
د اوستا د یادونو پر بنسټ د پیشدادیانو (پراداتیانو) په څېریوه بله کورنی، چې پیل یې د «کاوي=کاوه» په کلمه کېږي واک ته ورسېده.
د دې کورنی بنسټګر «کي کوات» (کیقباد) د ډېرو څارویو او رمو څښتن وو، چې تل یې رمي د بلخ په جنوب د البرز په غرونو کې څرولي او د ټولو اریایي ټبرونو په مینځ کې د ډېرو رمو څښتن کیقباد نامتو وو، د ده په وخت بل پاچا نه وه، اریایي تاج و تخت خالي وو، هر څوک پدې لټه کې وو، چې د یما په څېر یو پیاوړی پاچا د ځان لپاره وټاکی ، له دې بابته دګرشاسپ له مرګه وروسته ، ویل کیږي چې رستم د البرز غره ته لاړ «کی کو باد» یې راووست او پاچا یې کړ.
«کواتي» شهزادګان، پخوا تر دې چې واک ته ورسیږي، دوی به د البرز غرونو په څوکو کې چې «ارزیفه » نومېده د «ناهید» رب النوع پنوم نذرورکوه، لکه څرنګه چې ټبرو واکمنوهم دسلواسونو،یوزر غوایانواولس زروپسونونزرورکاوه، ، دارنګه به د دوئ په څېر کاویانو هم «ناهید» ته قرباني ورکوله، چې «البرز» به یې د سپېڅلي غره پنوم یادوو او ان د «پوهي» غر یې باله، چې دا ډول دیني حکایتونه د« کوه نور» او موسی (ع) په ټراو هم شتون لري.
په ډېرو لرغونو افسانوي کیسو کې به داسي روایت کېده، چې کله به د کوم هېواد پاچا ومړ، نو بیا به یې باز خوشي کړاو هغه به که د هرچا په سرکیناست، نو هغه به یې هم پاچا کوه.
د «کیقباد» په اړه هم داسي انګېرني شته چې دوه سپین بازونه راغلل، چې د سرو زرو تاج یې په منګولو کې نیولی وو او د همدغه سپېڅلي غره په لمنه کې «د کی کو باد=کیقباد» په سر باندې کېښود او بیا د البرز د غره شاوخوا ټول شپانه راټول شول او دی یې بیا په بلخ کې په پاچهی وټاکه.
یوه فرانسوی لرغونپوه «برګین» ، کاوي یا کوې د «پوه» یا پوهني په مانا ژباړلی دی او په ویدي سرودونو کې «یوسانا» او یا «یوسایي» هم پدې صفت او ستاینې راغلی دی.
د « کوې » کلیمي ته نږدې د ریګوید په ۴۱۸ مخ کي «وkavya کویه » اصطلاح هم راغلي ده ،چې د نیکونوارواح مانا ورکوي .(هماغه کتاب )


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د کیقباد په زمانه کې یوه موهمه پېښه د تورانی افراسیاب سره پرلپسې جګړې وې،چې په پای کې پدې سلا شول او روغه یې وکړه، چې د اکسوس سین (جیجون) او یا د امو رود د اریانا او توریانا پوله او سرحد وټاکل شي.
د کیاني او یا کاوي کورنۍ نور پاچایان دا سي وو: کاوي یوسان=کاوه یوسا=کې کاووس، کاوي سیاورشنا= کاوه سیاورشنا،کی سیاوش، کاوي هوسراوا=کاوه هوسراوا=کی خسرو...
داسي انګېرني او افسانوي کیسی خوله په خوله کېږي، چې د البرز په غره کې دېرې مانۍ جوړې شوې وې او تر ډېره بریده ویل کېږي، چې دغه مانۍ «کې کاووس» ته منسوب شویدی.
سیاوش د کیکاوس زوی دی، دی د کاوي کورنۍ د مرکزي اریایانو دریم پاچا ګڼل کېږي. مور یې «سودابی» نومېده او د تورانیانو له ټبره وه او له پلار نه وروسته په بلخ کې د سلطنت په تخت کیناست.
د اوه (۷) مانیو اصطلاح تر اوسه هم د بلخ د خلکو په مینځ کې د ژبې په سرده، ولې د کاویانو په مهال چې کومې مانۍ ډېرې نامتو وې، یوه هم د «کنګ دژ» مانۍ وه (کنګه kanah)، چېرته چې «کی خسرو» زېږيدلی وه.
د دغې مانۍ د نوم په تړاو داسې انګېرل کېږي، چې د اوسنۍ کندوز= کندز نوم هم له کنګ دژ څخه، چې د افغانستان په لرغوني تاریخ کې ځانګړې دب دبه درلوده اخستل شویدی، ځنې څېړونکي پدی اند دی چې دغه مانۍ د امو سین پورې غاړې خیوه کې وه ولې زه پدې فکراوباور یم، چې ښايي دا به د امو رود دی غاړې ته ودانه وه، داځکه چې دکنګ دژداوسني کندوزنوم، یومهال ددې لوې سیمې نوم وواو ان داچې دامو سین دواړه غاړې احتوا کولې !؟
هغه مهال چې افراسیاب دغه مانۍ ونیوله، نو بیا سیاوش هم د هغه له لاسه ووژل شو. که څه هم تورانیان د اریایانو یوه څانګه وه، خو بیا هم د تاج و تخت په سر پخپل مینځې جګړو کې ښکیل ول.
کاوه هوسرا وا د خپل پلار «سیاوش» له مړيني وروسته د اریانا په تخت کیناست. د اوستا په پشتونو کې. دده یادونه شویده، چې موږ زمیادیشت، اردیشت، ګوش یشت، ابان یشت، فروردین یشت او یو شمېر نورې لرغوني سرچينې د بېلګی په توګه یادولی شو.
کیخسرو د خپل پلار غچ او کسات له تورانی افراسیاب څخه واخست او په ډېرې مېړانې یې د «خنجست» سین په غاړه ونیو او بیا یې وواژه.
موږ دمخه ووېل چې ا یرانی لیکوال وایی چې خنجست د پارس په خاوره کې بهېد ،ولې داسې انګېرني هم شته چې ښايي اوسنی خنجان وي ،خو بیاهم په دې اړه نظریات ویشلي دي !؟
پر هر حال کیسخرو د «ګوشت یشت» په ۲۱ مې، ۲۲ مې، ۲۳ می فقره کې هیله ښودلې ده، چې د خپل پلار قاتل افراسیاب نه به غچ واخلی، چې په پای کې دې موخې ته رسیږي.
ډېر څېړونکي انګېري، چې دی د بلخ د کیاني کورنۍ یو پیاوړی او ځواکمن، ټولواک وو چې د اریانا ځلور خواوې ډېرې پراخې کړې او هغه سیمې یې هم لاندې کړې، چې تورانی افراسیاب نیولې وې.
د «خنجست» سین، چېرته چې کیخسرو بری ته ورسېد، په یو شمېر متونو کې د «کیکست=کیکسته» په بڼه راغلی دی او ویل کېږي، چې د «ایورومیه» سین پخوانی نوم دی، چې په ازربایجان کې بهېده.
«کایګر» دغه سین ته «ایسیک کل issik-kul» نوم ورکړی دی، چېرته چې د «کاویانو» او «توریانو» تر مینځ نښته شوې وه.
له دغو څرګندونو سربېره د اوستا په «ابان یشت» ۵۳ مه فقره کې د «توزا» یادونه هم شوېده او دی یو پیاوړی، جنګیالی اتل او پهلوان وو. ده له «اناهیتا» نه د خپلې قرباني په بدل کې غوښتنه وکړه او وې ویل غواړي دومره ځواکمن شي، چې پخپلو دښمنانو بری تر لاسه کړي. توزا د «ناواوتارزوی د منوچهر» لمسی وه.
په ۵۴ مه فقره کې خپل رب النوع اناهیتا نه داسې خواست او سوال کوي، چې:
«ای اناهیتا د مهرباني له مخې دا وس راکړه، چې د «ویساکا vaesaka» زړور زوی د «خشاتروسوکا» په مانۍ د «کنګه» په سپېڅلي کلا کې مات کړم او په سلګونو، زرګونو، میلونونو...تورانیان ووژنم.» د «ویسه ویساک» د زړور زامنو، چې په اوستا کې یادونه شوېده ،(ښايي له دغې کلمې نه موخه د «ساک» ټبر وي.سنګروال) .
داوستا دمتون له مخې کنګه، دمینځنۍ اسیا دیوې سیمې لرغونی نوم دی ،چې هلته ساکیانو دخپل دولت بنسټ کېښود اودمسا ګیتوددولت په شمال کې واک ته ورسېدل .
پارتیانیان د سا کانوتربوران د سیستان او د افغانستان په سهل لویدیځ کې استوګن ول اودوی هغه پوونده وګړي ول، چې د امو د پورې غاړې وګړو به دوئ «توران» بلل او د دښمن په سترګی یې ورته کتل.

---

) سنګروال شهسوار د افغانستان تاریخي جغرافيې څرنګوالی ۱۶۷ مخ[1]
) پښتو دایرة المعارف ۳ ټوک ۳۰۸ مخ[2]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ